نړیوال بانک
له بې وسۍ فقر او غربت څخه ژغورلې
نړۍ ته د رسیدلو لپاره هلې ځلې

د افغانستان اسلامي جمهوریت

**د افغانستان دولت د کلیوالي سرکونو د حالت د ښه والي له پاره له نړیوال بانک سره د ۱۲۵میلیونه ډالرو په ارزښت د وړیا مرستې هوکړه لیک لاسلیک کړ**

**کابل، د زمري د میاشتې لومړۍ، ۱۳۹۱ لمریز (د جولای ۲۲مه،۲۰۱۲م) کال:** دافغانستان د اسلامي جمهوریت د مالیې وزارت او نړیوال بانک نن د ۱۲۵میلیونه ډالرو په ارزښت د وړیا مرستې هوکړه لیک (موافقتنامه) لاسلیک کړ، چې د نړیوال بانک ګروپ د نړیوالی پرمختیا اداری له خوا ورکول کیږي. د دې وړیا مرستې موخه په کلیو کې ددویمو او دریمو درجو سرکونو دښه والي دځارنې، ساتنې او د پلونو دجوړولو پروژو او همدارنګه داړوند دولتي اجرائیوي ادارو دظرفیت جوړولو له فعالیتونو څخه مرسته او ملاتړ دی.

د افغانستان د کلیوالي لارو جوړولو د پروژو موخه او هدف په ټول هیواد کې د کال په ټولو فصلونو او هرډول اقلیمي شرایطو او حالاتو کې اساسي خدمتونو او ضروري امکاناتو ته د کلیواو بانډو اوسیدونکي لاس رسی دی. په پام کې دي چې د دې پروژو له لارې د هغو وګړو په شمیرکې زیاتوالی راشي چې د کال په ټول فصلونو کې د عمومي سرکونو څخه شاوخوا دوه کیلومتره واټن لري، همدارنګه اساسي خدمتونو ته دلاس رسي له پاره په مصرف کیدونکي وخت کې کمښت راشي او د کلیو او بانډو اوسیدونکي وکړائ شي په دوام لرونکي توګه اساسي ټولنیزو خدمتونو ته لاس رسی پیدا کړي. د دې پروژې مجموعي بودیجه ۳۳۲ میلیونه ډالره اټکل شوې ده، چې له دې جملې څخه ۱۲۵میلیونه ډالره د نړیوال بانک له خوا تمویلیږي او په پام کې ده چې پاتې نوره (۲۰۷میلیونه ډالره) بودیجه د افغانستان دبیارغونې د صندوق له خوا، چې د نړیوال بانک له خوا یې مدیریت او اداره کیږي،تمویل شي.

*"دا چې په سلو کې له اتیا (۸۰) څخه زیات افغانان په کلیو او بانډو کې ژوند کوي، د کلیوالي زیربناوو جوړونه او بیارغونه د هغوی د اقتصادي ودې، نیکمرغی او ژوند د ښه والي له پاره ډیره ضروري او اړینه ده"* دغه مطلب **د افغانستان د مالیې وزارت معین جلالتمآب ډاکتر مصطفی مستور** څرګند کړ، زیاته یې کړه. *"د کلیو او بانډو یو له بل سره وصلول او نښلول او له لویو او کوچنیو ښارونو سره دهغو داړیکو رامینځته کول، نه یوازې دا چې د کلیوالو د ژوند او اقتصادي حالت د ښه والي لامل ګرځی، بلکې دا له دې سره هم مرسته کوي چې په دې سیمو کې سوله، ثبات او سوکالۍ ټینګښت ومومي. که چیرې یو کلی یا قریه له بل سره وصل کیږي دا د کاري فرصتونو او لارو چارو د رامینځته کیدو سبب ګرځي، اساسي خدمتونو، لکه پوهنې او روغتیا ته د خلکو لاس رسی ښه والی مومي او په بازارونو کې هم کاروبار ښه رونق پیدا کوي."*

د افغانستان د کلیوالي لارو جوړولو پروژه دافغانستان د دولت د کلیوالي لارو جوړولو د ملي پروګرام د دوام او پراختیا له پاره تمویلیږي، چې په دې تیرو لسو کلونو کې د نړیوال بانک او د افغانتسان د بیارغونې د صندوق له خوا تمویل شوې ده. دکلیوالي لارو جوړولو د پروګرام، چې د دولت له لومړیتوب لرونکو پروګرامونو څخه دی، عمومي موخه او هدف یې د فردي مصؤنیت ټینګښت، متوازنه اقتصادي وده، له سیمه ییزو مارکیټونو سره د کلیوال اقتصاد ادغام اوګډون، اساسي خدمتونو ته د دوام لرونکی لاس رسی د برابرولو له لارې دی. تراوسه پورې د نړیوال بانک او د افغانستان د بیارغونې د صندوق په مالي مرسته او ملاتړ د افغانستان دولت وکړای شول چې په ټول افغانستان کې له ۱۰۵۰۰ کیلو مترو څخه زیات دویمه او دریمه درجه سرک جوړ او یا بیاورغوي. سربیرپردې په ټول هیواد کې له ۱۶میلیونو څخه زیات کاري فرصتونه افغانانو ته برابر شوي دي.

په افغانستان کې د دوولسیزو کورنیو جګړو له امله، د دې هیواد د سرکونو شبکه د لویو لارو او کلیوالو سرکونو په ګډون، په بشپړه توګه ویجاړه شوې ده. دا په داسې حال کې دی چې په ۲۰۰۱میلادي کال کې د نوی دولت په رامینځته کیدو سره، د اټکل شوي له ۱۳۰۰۰۰ کیلو متره سرک څخه یو پرلسمه برخې څخه زیات هغه وخت په مناسب حالت کې واقع و.

په اوس وخت کې د افغانستان دریمه درجه سرکونو شبکه شاوخوا ۸۰۰۰۰ کیلومتره اټکل کیږي، چې له دې جملې څخه شاوخوا ۷۰۰۰ کیلو متره یې د کال په ټولو موسمونو او فصلونو کې دعادي موټرونو له پاره داستفادې وړ وي. دهغو سرکونو له جملې څخه چې د کال په ټولو فصلونو کې د عادي تقلیه وسیلو له پاره داستفادې وړ نه وي، تقریباً د

۵۰۰۰ کیلو مترو یې وخت په وخت ساتنه او څارنه شوې او نور پاتې په ډیر ناوړه حالت کې واقع او بیارغونې ته اړتیا لري.

*"د پروګرامونو د تمویل او ملاتړ له لارې د فقر او غربت له منځه وړل او د افغانستان د دولت هلې ځلې، چې د کار کسب د فرصتونو د رامینځته کیدو سبب شوي، اساسي خدمتونو ته یې د لاس رسی لارې چارې برابرې کړي او همدارنګه د خصوصي سکتور د پانګو اچولو له پاره یې مناسب چاپیریال او شرایط رامینځته کړي دي، د نړیوال بانک د ملاتړ او پاملرنې په محراق او مرکز کې واقع دي"* دغه مطلب **دافغانستان له پارا دنړیوال بانک ددفتر رییس بناغلي باب سام،** څرګند کړ، زیاته یې کړه: *"د کلیوالي زیربناوو بیارغونه تر اوسه پورې د کلیوالو په ژوند او اقتصادي حالت کې د کتنې وړ ښه والی سبب او لامل شوی دی، یو زیات شمیر کلي او باندې په تاریخ کې د لومړي ځل له پاره له بازارونو سره وصل شوي دي. اوس خلکو په ډیرې آسانی سره روغتیایی خدمتونو ته لاس رسی پیدا کړی دی او همدارنګه زیات شمیر ماشومان کولی شي ښوونځي ته ولاړ شي. موږ د دې لاسته راوړنو د دوام له پاره د افغانستان د دولت له هلو ځلو او هڅو څخه خپل ملاتړ ته دوام ورکوو، ترڅو همدغسې خدمتونه هغو کلیوالو سیمو ته هم پراختیا ومومي، چې وګړي یې اوس هم دغه ډول خدمتونو ته سترګې پرلار دي."*

په پام کې دي چې د فواید عامې او د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارتونه د پخوا په شان په راتلونکو پنځو کلونو کې هم د افغانستان د کلیوالي سرکونو د جوړولو پروژه تطبیق او پلي کړي.

د افغانستان د کلیوالي لارو جوړولو پروژره درې ستري برخې لري:

- د فواید عامې وزارت په کلیو کې د دویمې درجې سرکونو د ساتنې او څارنې د ښه والي له پاره خپلو هلو ځلو ته دوام ورکوي. دغه وزارت په مشخصه توګه له ۱۰۰۰ کیلو مترو څخه زیات دویمه درجه کلیوالی سرکونه بیارغوي، ۲۵۰ کیلو متره موجود اسفالت شوی سرکونه د تاکلي معیار او سټنډرډ له مخې جوړوي، د ۱۰۰۰ کیلو متره اسفالت شوي او نااسفالت شوي دویمه درجه سرک په دوامداره توګه څارنه او ساتنه کوي او همدارنګه د سرکونو دغاړې ۱۰۰۰کیلو متره ویالي، د یوالونه او پلونه جوړوي.

- د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت ۱۳۰۰ کیلو متره دریمه درجه سرک بیارغوي او له ۱۰۰۰ کیلو مترو څخه زیات اسفالت شویو او نا اسفالت شویو سرکونو په دوامداره توګه ساتنه او څارنه کوي او همدارنګه ۱۶۰۰ کیلو متره د سرکونو دغاړې ویالې، د یوالونه او پلونه جوړوي.

- د سرکونو د شبکې د ښه مدیریت او اداری د ظرفیت دودې او لوړاوي له پاره د فواید عامې وزارت او د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزرات په دې لاندې مواردو کې دنوموړي پروژې مرسته او ملاتړ کوي:
  - o د سرکونو د شبکې د طرحې او پلان جوړولو او مدیریتي سیستم پرمختیا او پیاوړتیا.
  - o د کلیوالي سرکونو د طراحی د سټندرډونو له پاره دیو جامع سیستم پراختیا، د لګښت اټکل، څیړنه او پرمختیا.
  - o د سرکونو د حالت او شرایطو د لیک لړ (فهرست) رامینځته کول.

**مهربانی وکړئ د زیاتو معلوماتو له پاره له دې لاندې اشخاصو سره اړیکې ونیسئ:**


| | | | |
|---|---|---|---|
| وحیدالله توحیدی<br>د مالیې وزارت<br>۰۷۰۰۲۶۶۳۶۳<br>wahid_tawhidi@yahoo.com<br>www.mof.gov.af | انجنیر شیر محمد کریمی<br>د فواید عامې وزارت<br>۰۷۰۰۲۹۵۳۹۵<br>skamin@unop.org<br>www.mopw.gov.af | سرور نورزی<br>د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت<br>۰۷۹۹۴۰۳۸۶۲<br>norzai@gmail.com<br>http://www.mrrd.gov.af | عبدالرووف ضیاء<br>نړیوال بانک<br>۰۷۰۰۲۸۰۸۰۰<br>azia@worldbank.org<br>www.worldbank.org.af<br>www.worldbank.org/artf |